**The Lighthouse Journal of Literature & Linguistics, Vol. 03, Winter 2024, pp. 104-115**

# د پروفېسر سلمیٰ شاهین د پښتو فولکلوري خدمات

عظمي ګل ۱ ، عنایت الله ۲


## ABSTRACT

*Professor Salma Shaheen is renowned Pashto writer and researcher who has made significant contributions to Pashto folklor literature. She has authored several books and articles on Pashto folklore and literature including Rohi sandarai vol, 1 & 2 and da pukhto tappe masharitee aw saaqafatee asar". Her works has helped to preserve the rich cultural heritage of the Pashtun people, which is very essential part of Pakistani's cultural diversity.*


***Keywords:*** *Pashto, folklore, heritage, tappa*

پروفیسرډاکټرسلمیٰ شاهین د پښتو ادبي **نړۍ کښې** د **یوې** محققې **, شاعرې** اونثر **لیکونکې** په توګه **پېژندلې شي-** سلمیٰ شاهین د پښتو ادب او پښتنو لپاره **دومره خدمتونه کړي دي**، چې د دې **له امله** به **یې** نوم په پښتوادبي تاریخ **کښې تل پاتې** وي. پروفېسر سلمیٰ شاهین چې د خېبر پښتو نخواء ضلع مردان دبغداده نومې کلي کښې د خدائي خدمتګار تحریک غړي امیر محمد خان کره په کال ۱۰ اپریل ۱۹۵۴ء کښې سترګې اوغړولې،امیر محمد خان د پېشې په لحاظ زمیدار وۀ. د دۀ تعلق سیاست سره وۀ.او د باچاخان تحریک ملګرے وۀ-

د پښتو ادب دا ګڼ اړخېز شخصیت د پښتو اکېډیمۍ د ډائرېکټرې ، محققې **او د** یوې **فولکلورڅېړونکې** په **توګه** پښتو ادب **کښې خدمات ورکړي دي-** د هغې **تجزیې** کولو نه **وروسته** به **مونږ ته** د محترمې د **فولکورې خدمتونو په څۀ ډول** څرګند **شي. خو** د دې نه وړاندې به اول ځان د فولکلور په مغٰني پوهه کړو.

فولکلور هغه علم دے چې مونږته د یواولس کلتور،تهذیب اود هغوي د ژوند مختلف اړخونه څرګندوي، یعني لرغوني ټولنې اود اولس ژوند ، رسمونه اودودونه په بشپړه توګه منعکس کوي-د فولکلوري تحقیق نه وروسته د فولکلور درې

[1] Uzma Gull: Associate Professor Pashto,GGDC Shabqadar.**Corresponding Author's Email: uzmagul510@gmail.com**

[1]Inayat Ullah: SS Pashto GHSSTough Bala Kohat.

Manuscript Received: Nov 22, 2024
Manuscript Accepted: 17 Dec, 2024

قسمونه مخې ته راغلي د دې تشریحاتو له امله به لوستونکو ته د فولکلور معنٰی او د هغې اهمیت نور هم واضح شي-

## د فولکلور (FOLKLORE) پېژندنه

فولکلور یوه انګرېزي اصطلاح ده چې 'فولکFolk ' د خلقو یا اولس په معنٰی او 'لورLore ' د پوهې یا علم په اړه د معنې وړاندیز کوي. په دې توګه، د فولکلور مفهوم د خلقو یا د اولس په حقله معلومات او پوهه ترلاسه کول دي.له بلې خوا،فولکلور د یو قوم یا ټولنې د ژوند، دود، او د مقرر شوو قوانینو انځور وړاندې کوي.

د فولکلور په اړه تر اوسه پورې شوي تعریفونه د دې موضوع مهمې نکتې په ګوته کوي چې د یو قوم د طرزاوکلتوردژوندځرنګوالي په واضح ډول ځرګندوي. په دې کښې ،کلتور د خپلو پراخومعنا وو اومطالبو سره یو ځاے کېږي. دا د یوې ټولنې د تاریخي بڼې او کلتور بشپړه انځور وي .فولکلورې څېړنې له مخې، فولکلور درې عمده ډولونه لري. مادي فولکلور، نیم مادي فولکلور، او **غیر مادي فولکلور**.

مادي فولکلور یا غیر لفظي فولکلور

د یو قوم او د خلقو د کلتور سره ژوره اړیکه لري، چې دې ته علمي انسان پېژندنه یا سوشل انتروپولوجي هم وائي. په دې کښې د یوې قوم لباس، زېور، وسلې، کالي، پتري او هغه وسائل شامل دي چې د کاڼو ، پیتل، تامبې، خاورې، کپړو یا لرګي نه جوړ شوي وي.

## نیم مادي فولکلور

نیم مادي فولکلور یا نیم لفظي فولکلور د یوۀ قوم د تمدن سره تړون لري، چې په بنسټیز ډول د یو قوم د عقائدو او توهماتو، لکه جادو، منتر، مافوق الفطرت شیان، رمل، نجوم، فال، خوب، دود او داسي نور شامل دي. پښتنو په اولسي ادب کښې نیم مادي فولکلور ذکر موجود دے ، او دغه عقائد، جادو، منتر، فال او خوب په خپل منځ کښې ځاے لري.

## غیر مادي یا لفظي فولکلور

د غیر مادي یا لفظی فولکلور د اکثرو ارتباط د غیر تحریري یا شفاهي ادبیاتو سره دي چې په کښې د یو اولسي شاعرئ او قیصو باندې

تمرکز شوي- لکه ټپې، نيمکۍ، داستانونه، محاورې، متلونه ،رومانونه ،قيصې ، اړ، افسانې او ددې مشابه نوراصنافونه شامل دي.
د فولکلوري ادب بنسټ د هر ملک او قوم ثقافت کلتوراوتمدن دے په دې کښې د يوقوم دوينې رنګ ،د خاورې ،د ژبې خوږلت ، د غرونو اوسيندونو شور او زوږ ،شنه باغونه،چمنونه پټي،کروندګرو،سپوږمۍاوستوري،تماشې،بارانونه،طوفانونه،موسيقي ،ګډا،لوښي،لرګي،کالي پټري، حجره جماعت, او داسې نور چې د يو شاعر ځانګړي او انفرادي خيالات نه،بلکې د ټولې ټولنې د ګډې ثقافت نمائندګي کوي -

دپښتوادب هغه ادبيات،چې خالص ملي رنګ کښې نن هم د پښتو د عوامي ژوند په تن کښې نغښتې دي ،د هغوي جذباتو،احساساتو ، افکارو اوخيالاتو ترجماني کوي - دا دهغو لرغونو دورو ترجماني ده.چې په تاريخ کښې ئې لټون سخت دے.د پښتو په اولسي ادب کښې غېر مادي فولکلوريوه قيمتي ذخيره پرته ده او زمونږ د لرغونومشرانو دخولې وتلې چې د هغوې په عقل پوهه - دانائي او تجربې د تللو خبروته اشاره لري. دا د فولکلور غير مادي نوعه ده - چې د ياد شوي -اولسي ادب په رڼا کښې ئې ارزونه کوؤ- فولکلوري ادب په دوؤ برخو (منظوم او منثور)ويشل کې. فولکلوري يا اولسي سندرو په اړه شوي کار د فولکلوري يا اولسي سندرو را ټولولو او حفاظتي هدف سره پښتنو ليکوالو او محققانو چې کوم خدمات ترسره کړي ديد هغې په اړه ښاغلی صاحب شاه صابر په "پښتو ادب کښې تحقيق او تنقيد" کښې ليکي.

> ''دغه مشرانو نه علاوه يوشمېر پښتنو ليکوالو هم دټپو او اولسي سندرو راغونډلو او ترتيبولو په :لړ کښې لوئې خوارې کړي دي.چې په هغې کښې د ځينې کسانو په شريک زيار د افغانستان د دولتی مطبوعي له اړخه چاپ شوي کتاب د ''پښتو لنډۍ ''د پښتو اکېډمي له خواء سلمٰی شاهين'' ټپه او دشعور رود''او روهي سندرې''(ټپې)د داؤد خان داود ''پښتو ټپه ''(پېښور چاپ)سيال کاکړ''فولکلوري سوغات''(د اتڼ سندرې او نارې)کاکړي ,غاړې ,پلندې( د اولسي سندرو يو قسم ) فولکلوري جوهر(ښادي بدلې() کوئټه چاپ ) د پښتو متلونه غر والي د اولسي شاعرانو سندرې د صاحبزاده حميد الله د کاکړو غاړې ''(کوئټه ) د عابد شاه عابد اولسي تکلونه '' (کوئټه) ابو الخير ځلانده سيلاب ,''سيد اکبر صابر يکه زار.'' (د ټپو کتاب) د عبد الرحيم

مجذوب د'' مروتو کسرونه ''د جمیل یوسفزے ''د خوند توتي ''دغسي افغانستان کښې یوشمېر کسانوکار کړے دے. چې په معنې کښې د پښتني فولکلور( افغانستان چاپ )او پښتني دودونه '' او څو نورو په دې حقله کار کړے دے[1] '

سلمٰی شاهین د یوي فولکلور پوهاندې په توګه پښتو ادب کښې ځانګړې شهرت حاصل کړے دے او ددوي په فولکلوري ادب کښې دزیاتوخدمتونو سره د پښتون کلتور د نړۍمختلفو برخوته رسولو هڅه ئې په غوره توګه تر سره کړې ده .د یوې فولکلوریستې په حېث سلمٰی شاهین ګڼ شمېرکتابونه لري لکه ''روهي سندرې جلد اول" او"روهي سندرې جلددویم"چې د تنظیم، ترتیب او تحقیق په عالي سبک سره پیلې شوي دي. د نثر په برخه کښې، تحقیقي کتاب"د پښتو ټپې معاشرتي او ثقافتي اثر'' اونورې ګڼ شمېر نورې مقالې د پښتو په جرنلوکښې چاپ شوې دي. ددې نه علاوه لوک ورثه په مرسته، د پښتو اکاډمۍ لخوا د محترمې په اردو ژبه دنثري آثارومجموعه چې"پشاورشهراورروایات "او"پشتونوںکےموسیقي کے آلات" په نومونه شامل دي، د فولکلوري لیکني د غوره نمونوپه توګه خوندې شوي دي.د سلمٰی شاهین روهي سندرې جلد اول اوجلد دوم د پښتو فولکلور په برخه کښې د پام وړ مقام لري،چې محترمې نوم به پرې تل تر تله ژوندې پاتې وي. محترمې د خپلې فولکلوري خدمتونو په اړه ورځپانه هېواد سره د خبرواترو په و خت سید خېبراحمد ته ځواب ورکوي.

''ما په ټپه کار کړے دے په فولک کښې چې د زنانه ؤ کوم احساسات وي د هغې نه ډېره متاثره یم .دډېر وخته پورې زمونږ زنانه په دې معاشره کښې suffer شوې دي. او ددې ظلمونوپه کومه طریقه چې دي اظهار کړے دے .هغې نه متاثره یم. ما په ټپه په سیمینار کښې یوه مقاله وئیلې وه.دا مقاله په ''معاشرتي نفسیات ..باندې وه او تاسو یقین اوکړې چې هغه چې چا اوریدلې ده نو ټولو ژړلي وو.لنډه داچې ښځوډېر ظلمونه برداشت کړي[2]''

سلمٰی شاهین یو داسې شخصیت دے چې په پښتو ادب د نظم او نثر په میدان کښې ئې که خپل ځانته یوځانګړې شناخت جوړ کړے دے، نو د فولکلور په برخه کښې د یو فولکلورپوهاندې په توګه د ځانګړې مقام حقدار جوړه شوې . سلمٰی شاهین د پښتو فولکلوري نغمو یعنې ټپې راټولې کړي دي ، او "روهي سندرې'' په نامه دوه جلدونه یې چاپ کړي ، چې دغه خزانه

د ( ۳۶۰۰۰ )شپاړس زره ټپې لري، او تر ننه پورې ليکوالان او څېړونکي له دې څخه اقتباس کوي. د سلمٰی شاهين د فولکلوري هڅو په اړه، پوهانده فرخنده لياقت په خپل کتاب 'پراجېکټ: زما د ژوند قيصه زما په ژبه ' کښې ليکي-

"د ملازمت په دې وړمبې ورځو کښې د پښتو ټپو په راټولولو لاس پورته کړو. بايد چې دا يو لويه ذمه واري وه خو ولې سلمٰی شاهين دې کار ته کلکه ملا اوتړله او د روهي سندرې " اول جلد او دوېم جلد په نوم دا کتاب چاپ کړو. چې په کښې تقريباً شپږدېرش زره د پښتو ټپې راجمع کړي شوي دي. سلمٰی شاهين د خپل محنت په ذريعه نه صرف د پښتو ټپه ژوندي کړي بلکې خپل نوم ئې هم د پښتو په تاريخ کښې ژوندے کړو. ولې چې چرته هم د ټپې ذکر کېږي نو د سلمٰی شاهين ذکر به ورسره اورمرو کېږي[3]"

د سلمٰی شاهين ددې زيارونو له مخې ځانته لوئې مقام ترلاسه کړے دے هغې په دې سخت محنت په هغه وخت هم انعام ترلاسه کړےدے او تر څو چې پښتو قوم او پښتو ژبه حيات وي . نو له دې ادبي هلو ځلو نه به څېړنکاران علمي استفاده کوي.

ډاکټر شاجهان صېب د سلمٰی شاهين فولکلوري خدماتو په حقله ليکي.

"په پښتو اکېډمي کښې ددې پراجېکټ پښتو فولکلور دے. او په پښتو فولکلور کښې دا په پښتو ټپه کار کوي. او د پښتو ټپو يو ضخيم کتاب ئې د روهي سندرې په نوم چاپ کړے دے[4]"

پروفېسر نواز طائر صېب روهي سندرې جلد اول کښې د روهي سندرې ترتيب او تدوين او د سلمٰی شاهين د محنت په حقله وائي-

"پښتو اکېډمي تر دې وخته خواؤشا شپږديريش زره ۳۶۰۰۰ ټپې راجمع کړي دي. چې زمونږ په خيال دا د روهي سندرو يوه مهمه برخه ده. او تر دې وخته هېڅ يو فرد يا اداره په دومره لوے شمېر کښې لنډۍ, مصرعۍ, ټپې نه دي جمع کړي. اداري ددې د ترتيب او تدوين کار د پښتو اکېډمي يو محنتي کارکوونکې سلمٰی شاهين ته اوسپارلو, څوک چې په خپله يو ښه پښتنه ليکواله او شاعره ده او بالفعل د ټپې هغې نسواني جذباتومحرکاتو

چې زیاتي د ټپې هم د دوي له مخه رازېږولي دي. په روح او تاثیر پوهه ده او ځکه سلمٰی شاهین د "روهي سندرې" انتساب پښتو مېرمنو په نوم کړے دے[5]"

ښاغلے نواز طائر د ''روهي سندرې ''د چاپ خواهش پوره کېدو خبره کوي او وړاندې ددې کار عملي صورت بیانوي.

''پښتو اکېډمي ته د حکومت له خواء مطبوعاتو د کار دپاره مالي امداد ورکړے شو.او دغه شان دي کار ته ته لار سمه شوه .د پښتو اکېډمي د یو محنتي کارکنې سلمٰی شاهین ته دا ذمه داري اوسپارله او په لږه موده کښې هغې په خپل سرومخ ړومبی جلد چې( ۱۶۰۰۰) شپاړس زره ټپې پکښې دي..دترتیب وتدوین کار ئې سر ته اورسولو.دغه مجموعه په کال ۱۹۸۴ءکښې ډېر په خوند رنګ ,معاشرتي ژوند ځنو عکسونو سره شائع کړے شو.دي مجموعي بین الاقوامي شهرت اوموندو[6].''

ډاکټر فرخنده لیاقت د سلمٰی شاهین روهي سندرې د زیار په حقله لیکي.

"د خپل ملازمت په ابتدائي ورځو کښې چې کومه پښتو ذمه واري ددې په غاړه شوه هغه د پښتو ټپو په تحقیقي بڼه راغونډول او هم د هغو د اشاعت بندوبست کول وو ـ که څۀ هم دا ډېر مشکل او صبر ازما کار وۀ خو سلمٰی شاهین دې ګران کار ته ملا اوتړله او تقریباً شپږ دېرش زره پښتو ټپې ئې راغونډې کړې چې د روهي سندرې اول جلد او دوم او جلد په نوم چاپ شوي دي دا د هغې د خوارۍ نتیجه ده چې نن څوک د پښتو ټپې ذکر کوي نو د سلمٰی شاهین نوم ورسره خامخا یادېږي[7] ـ

دا لیکواله وړاندې لیکي-

''د پښتو اکېډیمی له اړخه دا پراجېکټ چې سلمٰی شاهین ته حواله شو- هغه د پښتو ټپو راټولول جمع کول او بیا د حروف تهجي په ترتیپ سره لیکل یو ګران کار وو ولې دا کار هغې په ډېر محنت او کړاؤ سرته اورسولو چې دغه ټپې د هغې

د پېژندګلو يوه لويه ذريعه اوګرځېدله او چرته چې د پښتو ټپه۳۶۰۰۰ زره يادېږي نود سلمٰی شاهين نوم به ورسره ضرور يادېږي ـ روهي سندرې چې د پښتو تقريباً ټپې په کښې راجمع شوي دي دا په دوه جلدو کښې چاپ دي ـ دويم جلد ئې په ۱۹۹۴ء کښې چاپ دے[8] ـ ''

پروفېسر شاه جهان د سلمٰی شاهين د فولکلوري کاوش او محنت منظرونه داسي بيانوي.

''پېغلې سلمٰی شاهين په ډېر کاوش او عرق ريزي د اکېډمي ورو ملګرو په تعاون د الفبائي په ترتيب دا مرتبې کړي او په دې باندې ئې په پينځو بابونو مشتمله يو درنه تحقيقي مقاله هم اوليکله او په دې کتاب ورته اباسين آرټس کونسل ايوارډ هم ورکړي شو[9]'',

سلمٰی شاهين د خپلې ځوانۍ په موده کښې د ټولو مهمو کارونو په تر سره کولو کښې د يوې زنانه په توګه **يوه ځانګړې مينه او شوق څرګندکړو**.چې دا په پښتني ټولنه کښې د يو ې ښځې لپاره يو زبردست کار دے دغه وخت زنانه عموماً د کور دننه په ژوند تېرولو مجبوره وي او د تعليم ترلاسه کولو لارې ورته بندې وي .خو محترمې د خپل خدماتو نه داثابته کړه چې ښځې دې د ژوند په هر مېدان کښې ځان د سړو نه کم نۀ ګڼي. سلمٰی شاهين خپله د فيلډ ورک په حواله ليکي-

''فولکلور, فوک ادب کلچرته يا دا oral traditionچې اتيا في صده( ۸۰) فيلډ ورک دے. ددې راغونډول او محفوظول او په دې تحقيق ډېره سرمائي يا هنر مند او ذوق لرونکي خلق ,تربيت يافته کسان اوډېر وخت غواړي پښتو اکېډمي چې د فولکلور دپاره څه مخصوص cellاو فنډز نه لري.او نه په دې مېدان کښې څه خاص تربيت يافته عمله لري خو بيا هم په تېرو څلو يشتو کالو کښې د خپلو بې شماره مسائلو او محدودو وسائلو کښې کوششونه کړي دي[10].''

ډاکټر راج ولي شا خټک د سلمٰی شاهين د فولکلوري پوهنې په اړه ليکي.

''اګر چې سلمٰی شاهين په پښتو ټپه ډېر کار کړے دے.څه خواؤشا دېرش زره ټپې نه يواځې راجمع کړي او په دوؤ جلدونو کښې د اکېډمي له

خواء شائع کړي دي.بلکي د ټپې مضامین د هغې په درجه بندي او تهذیب کښې د ټپې دائرې د اثر او نفوس په حقله هم تحقیقي مقالې هم لیکلي دي.په دې حساب هغه د د ټپې د هر تاثر نه په ښه شان خبرده[11].''

روهي سندرې (جلد اول)

روهي سندرې د پښتو فولکلور یوه مجموعه ده چې سلمٰی شاهین د وخت په تېرېدو سره د پښتنو مختلفو سیمو کښې د دې خزانې راجمعه کړې. په الفبا کښې ئې د شپاړس زره ټپې ئې ترتیب کړي. د دې ټپو اهمیت او ارزښت ته د پښتون اولس توجه نهٔ وه. ځکه چې نه د ټپو شاعر پېژندلې شوي او نهٔ په چاپي شکل کښې موجود دي. مګر د دې مقصد لپاره سلمٰی شاهین د پښتو اکېډمی ته د حکومت طرفه په مطبوعات کښې مالي ملاتړ تر لاسه کولو سره ادبي ذخیره ثبت کړې. په دې اړه پروفېسر نواز طائر لیکي-

''پښتو اکېډمی ته د حکومت له خواءمطبوعاتو د کار دپاره مالي امداد ورکړے شو.او دغه شان دې کار ته ته لار سمه شوه .د پښتو اکېډمی د یو محنتي کارکنې سلمٰی شاهین ته دا ذمه داري اوسپارله او په لږه موده کښې هغې په خپل سرومخ ړومبي جلد چې( ۱۶۰۰۰) شپاړس زره ټپې پکښې شاملي دي.ددې ترتیب وتدوین کار ئې سر ته اورسولو.دغه مجموعه په کال ۱۹۸۴ء کښې ډېر په خوند رنګ ,معاشرتي ژوند ځنو عکسونو سره شائع کړے شو.دې مجموعي بېن الاقوامي شهرت اوموندو[12].''

هم دا لیکوال په "د پښتو ټپې معاشرتي او ثقافتي اثر ''سر یزه لیکي .

''زهٔ پېغلې سلمٰی شاهین ته د هغې په محنت ، زیار او کاوش مبارکي ورکوم او هیله لرم چې هغه به خپله دا تحقیقي جذبه هم دغسې ژوندې اوساتي او د کار او زیار هغه قوت به پېدا کوي چې د پښتو اکېډیمی د یو محنتي کارکن سره جوړېږي او ښائي[13] _''

د سلمٰی شاهین د تحقیقي سلسلي ددې کتاب نوم روهي **یعني'روه '** د پښتونخوا په مناسبت سره **ټاکلے شوې دے-دا یو** داسې نوم **دی چې** ډېرجامع **دے** او د **هرچا زړه ته پرېوځي**، او**'سندرې'** مطلب ټپې **دي، دغه**

کتاب روهي سندري جلد اول د **وړاندې کېدو** سره ډېره **پزيرائي ترلاسه کړه** او په **ځانګړي** توګه د پښتو فولکلوري ادب **کښې وستائيلې شوه.** د سلمٰی شاهين **لخوا ترتيب، تدوين** او **تحقيق شوے** کتاب روهي سندري جلد اول په **۱۹۸۴ء کښې لومړی** ځل چاپ **شو** او **دويم** ځل چاپ په کال **۲۰۱۳ء کښې** جدون پرنټنګ پرېس نه پښتو اکېډمی **لخوا خوره شو. چې(۱۶۰۰۰ )شپاړس زره** ټپې **لري.** د کتاب په **پېل کښې** سلمٰی شاهين مقاله **'د** ټپې **پېژندګلو'** په **موضوع** او پروفېسر نواز طائر مقاله **'روهي سندرې'** په **موضوع** په **سر کښې شاملې دي.** د **دې** کتاب ترون ډېر په **خوندور ټکو کښې ليکلے شوی** ده-

''زمونږدمعاشرتي ژوند د هغې حقيقتونوپه نوم
چې دا سندرې ترې سازې شوي دي''[14]

روهي سندرې جلد اول کښې د سلمٰی شاهين مقاله ''د ټپې پېژندګلو''د سرخط لاندې شائع شوے دے.دلته د محترمې ددغې مقالې نه د نثر نمونه وړاندې کوم چې د هغې د فولکلور پوهني او ټپې پوهنې پوره پوره اندازه اوشي-

ټپې ته مصرعه يا لنډۍ وئېلے کېږي .د پښتونخوا په مختلفو علاقو کښې دا هم په دغه درېونومونو پېژندے شي.په بره پښتونخوا يا افغانستان کښې دا په لنډۍ يادېږي .اوپه ښکته پښتونخوا کښې ورته ټپه يا مصرع وائي لکه-

راځئ راځئ چې لنډۍ وايو

لنډۍ لا ښې دي ديارغم غلطوينه
د ټپې وار راســــــــــره کېږده

ماله بې واره ټپه خوند نه راکوينه
ما له قلم مشوانۍ راوړه

يوځو مصرعې په وينو سرې يارته لېږمه

لنډۍ وړې يا مختصرې ته وائي او د لنډۍ په معنٰی پکارولے شي – وړومبۍ مصرعه د دوېمې مصرعې نه څلور سېلابه لنډه وي ځکه چې وړومبۍ مصرعه نهٔ سېلابه او دوېمه ديارلس سېلابه وي-

يا دا چې په دې قسم شعر کښې يو ډول تا ثير پروت وي چې تش په اورېد و ئې په اورېد و نکي داسې اثر کېږي چې په الفاظو کښې ئې تعريف نه شي کېدے او اکثر پښتانهٔ داورېدو سره ژړ غوني کېږي هم – او په زړهٔ کښې ئې يووه څړيکه يوخوږ درد اوسوې پېدا کېږي- نو ځکه د هغې لنډۍ نوم په معنٰی دمار ده .په دې ايښودے شوے-

قلم په لاس ګوتې مې رېږدي

د عاشقۍ لنډۍ په زړۀ خوږلے یمه
ذرې ذرې مې ورله یوسئ

چې دکاسیرې لنډۍ خوا رایخه شینه[15]''

روهې سندرې (جلد دوم)

دروهي سندرې مجموعه جلد دویم د ۱۹۹۴ء کال په ترخ کښې د پښتو اکېډمۍ له خوا دملت پرنټرز پرېس لاهورکښې چاپ شوے دے. کوم چې ټولې ټالې شل زره (۲۰۰۰۰) ټپوباندې مشتمل یو غټ کتاب دے. دا د سلمٰی شاهین د فولکلوري خدماتو یو پوخ شاهکار دے . دغه کتاب یوزړۀ راښکونکې ټرون لري-

''د خپل احساس د هغه درد په نوم چې د پښتو مېرمنو د سوي لوي ژوند په هغه سندره ژوندے دے, کومه چې د رنو اوښکو د ملغلرو نه سازه شوي . د ټپې په افاقي آهنګ غږېږي[16] ".

د ''روهې سندرې جلد دویم '' په مقدمه محترم نواز طائر په زړه پورې ډول لیکلو د اثر په پېل کښې سلمٰی شاهین د ټپې سره تړلي اجتماعي ذهنیتونه،کلتور ، او پښتني مینې په اړه معلومات د یوې مقالې شکل کښې وړاندې کړي ده -د مثال په توګه داعبارت وړاندې کوم -

پښتو یوائې ژبه نه ده.داد پښتو د ژوند دستور او آئین هم دے.پښتو یا پښتون ولي د یو خاص طرز معاشرتاو تهذیب نوم دے. داد اخلاقو او عاداتو یوې داسې مجموعې ته وائي چې د هغې نه بهر کېدل یا تېر و بېر کېدل د پښتو نه وتل دي او دغه رنګ که په غور اوکتے شي نو داپښتوده ''او داپښتو نه ده'' کښې تېرېږي.''دا ده او نه ده ''ترمېنځه یو قدم زیاتي یا بې ځایه کېښول د پښتو او پښتونولۍ د آئین نه وتل دي.

پښتو د اوسپنې چنې دي

زما لالیه فولادي جوړکړه غاښونه

اشنا مې اوړې رانه لاړو

چې دسترخوان لره ورځم ژړا را ځینه

پټکي په مينځ د وروځو کېږده

وطن پردے دے چې ډاډه ورسره ځمه (17)

سلمٰی شاهين چې کله ټپې راټولولې او څېړنه ئې کوله-نو هغه وخت د ټپې په موند،مضمون اومعنٰي باندې پوهه لانوره هم پياوړې شوه ، چې په دې ټپو کښې د پښتون فطرت د څېړنې په اړه معلومات په خپله معلوماتي سريزه کښې خوندي کړي دي، دا به د نثر نمونې وړاندې کولو سره په ښه توګه څرګند شي-

ټپې په ژوره مطالعه د پښتو اولس د هر فرد فطرت په خپل حقيقي رنګ کښې مطالعه کېدے شي.ددې په ذريعه دده په قام او قبيله د وخت په وخت راغونډلو انقلاباتو جاج اخستې کېدے شي .د بنيادم د فطرت له دهغه شخصيت جوړېږي .او پښتو ټپه د پښتون شخصيت او د پښتو د نفسياتو عکاسي کوي .ددې د ګڼو مو ضو عاتو په فهرست کښې د تاريخ او رومان ډېرې شهادت کوي او ځيني د روماني کرادروو افسانوي تشخص په ګوته کوي لکه

خانان په بيا سره خانان وي

په مېنځ کښې توئي شي نوکران زېړ ګلونه

چرته لندن چرته چترال دے

بې ننګي زور شو فرنګي چترال له ځينه

د پښتو روماني کردارونه په ټوله پښتونخوا کښې عمومي مقبوليت لري.دا مقبوليت د پخوا داسې روان دے.ځکه ئې په اولسي سندرو کښې هم په خوند خوند ذ کر کولے شي.ددې قسم ډېرې ټپې چې پکښې د رامداد خان ,مومن خان ,شېرينی ,بخت منير ,آدم خام درخانی او يوسف خان شېر بانو يا دګيرنه شوې ده .دا زمونږه د معاشرتي ژوند په مختلفو اړخونو رڼا اچوي-

مامونی شنه شوه په خندا شوه

د ماما زوے دے ما به نه حلالوينه[17]

سلمٰی شاهين د دويم جلد د سريزې په خاتمه کښې د روهي سندرې( ټپې) د راغونډولو په اړه خپل خيالات وړاندې کوي-

''دويم جلد په تيارۍ کښې ډېره موده اولګېده زمونږ دا کوشش وو چې هر څومره زياتې ټپې.

او مصرعې چې راجمع شي او هغه ترتیب کړے شي
,چې زمونږ دا منصوبه په داسې شکل کښې ګرانو
لوستونکو ته وړاندې شي چې هغوئي څه زیاته
تنده محسوسه نه کړي .دا منو چې دا بیا هم په
دریاب کښې د یو څاڅکي برابر نه دي. په دې چې
د پښتونخوا لمن ډېره لویه او خوره وره ده
او داسې بې شمېره لنډۍ ټپې ,ستائینې او
مصرعې لا اوس هم په دې سیمه د راټولولو په
انتظار دي .هغه لا زمونږ په دې مجموعه کښې
نه دي راغلي .مونږه دا کار نیمګړي ګڼو او
امید کوو چې دا به دغسې جاري وي[18]''

سلمٰی شاهین د ټپې روهي سندرې جلد دوېم کښې د'' مینه آئیډیل '' په حقله د منتخب ټپو په پس منظر کښې خپل تاثرات بیانوي.د هغې نمونه وړاندې کوم-

په پښتنه معاشره کښې د مینې خپل یو جدا مقام دے. کله پټ او کله ښکاره ,میني ,محبت ,ملاقاتونه نه د ګودر په غاړه ,پاس په کوټه ,په منډوکي کښې چرته یاچرته په لاره کوڅه کښې خو د زړۀ د مینې اظهار او د سترګو پټ پټونی,که چاله د زیړي مازیګري کښې د فاصلو احساس ورکوي نو چاله د سوچه جذبو او خیالي جانان د تصور په دنیا کښې د هغه سره د نزدیکت یو جهان آباد وي-

مینه فراق سره زیاتېږي

وصال په مینه باندې اور اولګوینه

په کوڅه کښې ډېرې پیرې اوکا

مدام به نه وي نړیدلي دیوالونه[19]

'' د پښتو ټپې معاشرتي او ثقافتي اثر '' جائزه

سلمٰی شاهین د فولکلور پوهاندې په حېث د نثري صورت له لاري د څېړنې محور ټپه، ټولنیز ژوند او د هغوی نفسیاتي حالت ګرځولے دے.د ټپې راټولولو، ترتیب او تدوین اړین کار د وخت په تېرېدو سره د محترمې مشاهدې په ملاتړ ترسره شوي ده-هغې په دې پوهه درلوده او خپل دغه فولکلوري پوهه ئې د کتاب په بڼه کښې وړاندې کړې ده. ''د پښتو ټپې معاشرتي او ثقافتي اثر''د څېړنې له مخې د سلمٰی شاهین د نثري تحلیلي افکار په شکل د ۱۹۸۸ء-۸۹ کال په جریان کښې د پښتو اکیډمۍ لخوا د جدون

پرنټنګ پرېس پېښور له خوا خوره شوي دي چې-(۹۶شپږنوي مخونه دغه اثرپه پنځو فصلونو مشتمل دي چې په کښې د ټپې پېژندنه، د پښتنو د عامه ژوند مطالعه د ټپې په رڼا کښې، د مينې او بدېزخمونه او تلوسه، د پښتنو اخلاقي ارزښتونه، او د پښتنو آئيډيلزم شامل دي. سلمٰی شاهين د ټپو په راټولولو کښې مصروفه وه، چې په دې موده کښې هغې د پښتون قوم ژوند، خوي، نفسيات او طرز معاشرت د نثر په بڼه لوستونکو ته وړاندې کړل، چې د پښتو ادب فولکلوريک اړخ په حواله ډېر اهميت او ارزښت لري. د سلمٰی شاهين د دې کتاب د ليکلو شاليد په اړه پروفېسر نواز طائر ليکي-

''پېښور يونيورسټي د علومو او فنونو ه مېدان کښې ډېر څه اوکړل-دا پوهنتون د هغې تابناک مستقبل په لور روان دے ,د کوم ذکر چې وړاندې اوشو.او ددې ړومبي ټېره د پېښور يونيورسټي د کار پردازانو او مشرانو په دې صائب فکر او مثبت روش کېښودے شوه چې په دې پوهنتون کښې د عملي تحقيق دپاره څه کوټلے اقدامات اوکړے شي.په دې لړ کښې هغوي څه کار پښتو اکېډمی ته هم حواله کړو.او دپښتو اکېډمی زلمي او پېغلې په بېله بېله مو ضوع په کار کولو او تحقيق او څېړنه بوخت حاصل کړل.ماته دا فخر حاصل دے چې ددغه دريو واړو زلمو او پېغلو تحقيقي کار لارښودنه ئې ماته اوسپارله.او ددغې په نتيجه کښې د پېغلې سلمٰی شاهين د ''پښتو ټپې معاشرتي او ثقافتي اثر''ستاسو وړاندې دے,دا موضوع او مېدان بې کچه وسيع دے په دې کښې لا نور هم ډېر کارپاتي دے[20].''

هرکله چې سلمٰی شاهين په ټپه د تحقيق کولو په وخت هغې خپل ژور مشاهدات چې څه محسوس کړل، په تحقيقي کتابونو او مقالو کښې ثبت کړل، چې پښتو فولکلور د علميت خزانه ده. دې د محقيقينو لپاره لاره روښانه کړې ده. د پښتو ټپې په اړه د سلمٰی شاهين خيالات او تاثرات څه وو؟ په مشرق اخبار کښې اباسين يوسفزئي سره مرکه کښې د يو سوال ځواب ورکوي-

"پشتو ٹپہ میرا پسندیدہ میدان ہےاو اتنے ٹپے جمع کرنے اور پڑھنے کے بعد میں نے دو باتیں محسوس کی-ایک تو یہ کہ ٹپے زیادہ تر خواتین نے کہے ہیں-او عورت کے ساتھ معاشرے نے ہر دور میں مناسب رویہ نہیں برتا-اور جب عورتوں کو کوئی دوسرا راستہ دکھائی نہیں دیا تو انہوں نے ٹپے کے ذریعے اپنا اظہار کیا اور درد کے اس بھر پور اظہار کو پڑھنے کے بعد اس معاملے میں بے حد حساس بنی اور عورتوں سے ہمدردی کا جذبہ شدت اختیار کرگیا"۔

په سر مې مه وهه لالیه
تورې کمڅۍ مې د دادا د کوره دینه

د ظالم دې ظلم ته ګوره
یو مې وهي بل مې ژړا ته نه پرېږدینه
''[21]

سلمٰی شاهین د خپل دې فولکلوري تحقیقي کاوش په حقله روهي سندرې جلد دویم کښې د خپلې خبرې سر خط لاندې د ا بیان لري-

''ددې کتاب په ړومبي جلد کښې د ټپې پېژند ګلو په موضوع چې څه لیکلي دي هغه د تمهیدي بحث یوه برخه ده .کومه چې د کتاب د اشاعت نه پس سمدستي روستو د یو جدا تحقیقي مقالې په شکل کښې'' د پښتو ټپې معاشرتي او ثقافتي اثر'' په نوم د پښتو اکېډمۍ له خوا چاپ شوه.په دغه مقاله کښې د ټپې هغه خصویات په تفصیل سره په ګوته کړي شوي دي. کوم چې ددې معاشرې د مختلفو اړخونو وضاحت کوي.دغه مقاله یو تحقیقي کاوش دے[22].''

دا لیکواله ددې مهم کار په حقله وړاندې خبره واضحوي.

''په دویم جلد کښې زمونږ موضوع بحث په پښتو ټپه کښې معاشرتي نفسیات دي.ددې دپاره چې پښتون وګړے دد ي په نفسیاتي اهمیت خبر شي او ددې مېدان تفصیلي مطالعې په دې غرض اوکړي چې د پښتو د معاشرتي ژوند نفسیات څه دي او هغوي په دې کښې کومو کشالو سره مخ دي[23] ــ''

سلمٰی شاهین''وهم پرستي'' سر خط لاندې په دې کتاب کښې د دوؤ کسانو د نفسیاتو، عقائدو او جذباتو مطالعه وړاندې شوې ده. په دې کښې پښتون کلتور او د دې سره تړلي ژوند، رسومات، عقائد او توهماتو پس منظر تفصیل سره بیان شوي دي. د حوالې لپاره ئې ټپې ځاے په ځاے راوړل شوي دي-

انسان چې د زماني ګردشونو ښکار شي اونور هېڅ وس اوطاقت نه لري نود دا سې اسري په تکل چې دۀ ته په سکون ورکولو کښې امدادورکوي ــ دے مجبوراً د توهماتولارې خپلې کړي - په

پښتنو کښې لاهغسې دا سې روا جو نه او تونې تو تکے عامې دي - وجه ئې داده چې پښتون لا د ديني و جديد و سائنسي علومونه بې خبره دے او روزمره ژوندئي تکاليفو ومشقتونونه ډک دے - قتل مقاتلې ، جنګونه ، جګړې ، په وړه وړه خبره ورانېدل، شر فساد کول، روغ رنځور، ماته کوډه، ښهٔ بده ، روغه ورانه ، مسافري، نيستي وغېره تول مشکلات و حوادث چې د اولس همېشه د ژوند په هلو ځلو کښې بوخت ساتي بيا د دوي په نوم محض د الله په اسره نا ستې د دوي چنغلې محبوبې، ميندې ، خوېندې ، کونډې, وراړې ، بورې اوبې وزلې تورسرې، سپين سرې چې مادي وسائل يا د رسل و رسائل و پېغام رساني و غېره نورې څه ذر يعې نه لري نو هغوي مجبوراً د مارغانو اوازونو، د سترګو رپېد و ياد پېزار په بل مخ کېد و يا داسې نوروخبرو په اسره اوسي لکه

د مارغانو اواز په فال نيول

رب دې د لرې را روان کا

په فال دې نيسم د مارغا نو اوازونه

ا ودکارغه اوازپه فال نيول

کارغه اوازکړوته را نغلې
ما د کارغه نارې په فال نيولې دينه

تعويذ کول

سرمي نرے نرے خوږېږي

ماله تعويز د نيم سيري وکړه مينه[24]''

داکتاب د عوامي ادب په برخه کښې مهم او بې نظير دے دا د عوامي او عوامي ادبياتو د محققانو لپار يوه بنيادي ماخذ ګڼل کېږي. دا د محترمې سلمٰی شاهين د ژورې څېړنې ، مشاهدې او علمي تحقيقاتو ټولګه ده چې پښتو او د ملت کلتور په غوره ډول نمايندګي کوي. محترمې د خپل تحقيقي مهارت او پوهې ښودنه وکړه، او د نثري ليکنې اسلوب ئې هم د پام وړ دی. د محترمې نثري انتخابونه، چې ما وړاندې کړي، او نور مختلف مثالونه چې دلته ذکر شوي، په مجموعي توګه د محترمې نثر يوه روښانه، ساده او روانه بڼه وړاندې کوي، چې کوم معنوي بارنهٔ لري نثر په نرم او ساده تکو کښې ليکلے شوے دے او په دې کښې هغه ادبي رنګارنګی شته چې لوستونکي خپل اړخ ته راغب کوي ، او د خپلې خبرې او مدعا وړاندې کولو لپاره زيات دليلونه ،شواهد او پس منظر وړاندې کوي.

د پښتو فولکلور په اړه لیکل شوې مقالې

د سلمٰی شاهین د فولکلوریک او د هغې ځانګړي ډول ټپې په اړه ځو مقالې پرله پسې په وخت میاشتنی مجلو کښې خپرې شوې دي. دا مقالې د هغې د یوې فولکلور پوهاندې په توګه او په ځانګړې توګه د ټپې د پوهې په لحاظ ګڼ خدمات وړاندې کوي کوم چې نه یوازې د پښتو ولسیادب شوقین لوستونکي ته بلکې محققینو ته هم ګټور خبرونه رسوي. د دغو مقالو وضاحت وړاندې کوم-

- د پښتو ټپه کښې معاشرتي نفسیات,۱۹۹۳-۹۴ ء یونیورسټي جرنل پشاور
- ټپه او اولسي ژوند,۱۹۹۵-۹۶,یونیورسټي جرنل پشاور
- پښتو اکېډمی کښې په اولسي ادب شوي کار,۱۹۹۸-۹۹ همدغه
- ادب ثقافت او جمهوریت
- په ټپه کښې د مینې او بدی دردونه او ټکورونه ، جنوري ۱۹۸۵ءتا اکتوبر ۱۹۸٤ء
- د پښتو د اولسي ژوند پلټنه د ټپې په رڼا کښې ، اپرېل ۱۹۸٤ء
- د ټپې پېژندګلو ، جنوري ۱۹۸۵ء تا فروري ۱۹۸٦ء
- فوک تھیٹر اور پشتو ادب
- پاکستاني ثقافت عالمي تناظر میں
- خواتین کے حقوق پشتون ثقافت میں
- Study of women in pashtoon society په اردوکښې لیکلے دے
- د پښتو اکېډیمی میوزیم هال
- په کال ۲۰۰۲ء کښې د پښتون کلچرل میوزیم د بنیاد اېښودلو او مکمل کېدلوسهره هم دسلمٰی شاهین په سر ده ــ فرخنده لیاقت د سلمٰی شاهین د پښتو او اکېډمي په حواله عملي خدماتو په لړ کښې لیکي-

> ''د ټولو نه اول خو دا پښتون کلچرل میوزیم او په کوم هال کښې چې تاسو نن ناست یئ دا هم د سلمٰی شاهین د منډو تړړو یو ثبوت دے چې هغې

> په يوازې ځان ددې منظورې د ايچ اي سي نه اوکړه او ددې جوړول او بيا دې له دا ټول لوښې لرګي پېدا کول تر دې چې دلته کښې نال شوي يو يو بوټے د دوي ددغه محنت ګواهي ورکوي ــ شوے''25ـ''

همدا ليکواله وړاندې ليکي-

د لوک ورثه نه د پښتون کلچر او ثقافت نمائنده ځلو پښت پراجېکټونه منظورول ددې پښتنې مېرمنې کارنامه ده چې همېشه دپاره به يادولے شي ــ

''د ټولو نه لوے کار چې دې په يواځې ځان کړے دے او کېدے شي چې که دغه وخت د دوي په ځاے د اکېډيمۍ مشري د بل چا په لاس کښې وے نو دا نن چې تاسو کومې پښتو اکېډيمۍ کښې ناست يئ ددې دا ځانګړے حېثيت به باقي نه وو پاتې شوےـ26-''

سلمٰی شاهين د ميوزيم هال جوړولو خبر په د پښتو مجلې په اداريه کښې پخپلو ټکو کښې دا سي بيانوي-

د پښتو اکېډيمۍ او د پښتو ژبې او ادب د ترقۍ ميئنانو دپاره د خوشحالۍ يوه بله خبره دا هم ده چې د پښتو اکېډيمۍ د توسيع دپاره د دوه نيمو کروړو په يوه تعميراتي منصوبه هم کار شروع شو . دا عمارت به په درېو غټو برخو مشتمل وي . يوه برخه به ئې ډيجيټل لائبرېري ، دوېمه برخه ميوزيم او درېمه برخه به ئې سيمينار هال وي .دې سره به متعلقه سټاف دپاره دفترې هم جوړېږي .ددې تعميراتي منصوبې په شروع کولو مونږ د صوبه سرحد د ګورنر ښاغلي لفټننټ جنرل علي محمد جان اورکزي او د پېښور يونيورسټۍ د محترم وائس چانسلر ډېره ډېره مننه هم کوؤ ــ

تر کومه پورې چې د لائبرېرۍ او په خصوصي توګه د ميوزيم خبره ده ــ نو مونږ د علم او ادب ذوق مندانو ته اپيل کوو . چې نايابې قلمي نسخې او د ميوزيم په حواله د پښتون ثقافت او تمدن سره اړه څومره اثار چې وي هغه دې په دې مينه اکېډيمۍ ته وسپارې چې د پښتنو تاريخ او ثقافت محفوظ پاتې شي ــ

> '' ګرانو لوستونکيو ! نن سبا په بېن الاقوامي تناظر کښې ,, د پښتو او پښتون،، اهميت ډېر زيات شوے دے مونږ پښتنو ليکوالو له ډېره ضروري ده چې خپلې ذمه وارۍ او خپل رول وپېژنو

او ددې نازک مور نه ډېر په احتیاط او کامیابۍ سره تېر شو . دې کښې مونږ له پکار دي چې د پښتو ژبې او ادب اود پښتون قام د مستقبل له خاطره يو ذهني ، فکري او عملي تړون پېدا کړو[27] ''

محترمې سلمٰی شاهین په ۲۰۰۸ کال کښې د پښتون کلچر سیمینار او علمي غونډه جوړه کړې وه د دې ترڅنګ پښتو اکېډیمي په خپله تاریخ کښې په لومړي ځل د محترمې په لارښوونه د کتابونو یوه میله منقعد کړه دامیله د ۳۰نومبر ۲۰۰۴ څخه تر ۲ دسمبر پورې روانه وه. دې درې ورځینۍ کتابونو نمائش پرانسته د پېښور یونیورسټۍ د وائس چانسلر لفټیننټ جنرل (ریټائرډ)ممتاز ګل له لوري وشوه. په دې موقع د اکېډمي ټولي مطبوعات په نیم قیمت وړاندې شول او خلقو ډیرې مینې سره کتابونه واخېستل. د محترمې د دې نمائش جوړولو اصلي هدف د پښتو ژبې، ادب، ثقافت او تاریخ په اړه دپښتني قوم د مطالعې شوق او کتاب کلچرته وده ورکول وو-

سلمٰی شاهین د فولکلور په اړه د معلوماتو، تجزیو او څېړنو په برخه کښې یوه مهمه څېره ده. هغې د خپل ځوانۍ په دور کښې د فولکلور او روهي سندرو په اړه ګڼ شمېر پراجېکټونو کښې برخه اخیستې. د هغې د سخت کار له امله، نه یوازې هغې د "روهي سندرې جلد اول او دوېم" په څېر مهمې څېړنې ترسره کړې، بلکې د هغې د زرخېزه ذهن او تفکر عکاسي کوونکې درنې مقالې هم لیکلې دي. که چېرې مونږ محترمه سلمٰی شاهین ته د فولکلور پوهاندې او د پښتو فولکلور سره د مینې په اړه یادونه وکړو، نو دا به بې ځایه نهٔ وي-

حوالې او حاشیې

---

1 صاحب شاه صابر، پښتو ادب کښې تحقیق اتنقید ،چاپ کال ۱۹۹۵ء ،، صداقت پریس سرکلر روډ،ص,۶۸

2 خیبر ,احمد, سید ، ورځپانه هیواد ، ۱۶نومبر۱۹۹۷ء

3 لیاقت ، فرخنده ، پروفېسر ، زما د ژوند قیصه زما په ژبه، فاسټ ټریک کمیونیکشن پېښور,چاپ کال ,۲۰۱۹ء، مخ ۱۰۹-۱۱۰

4 جهان , شاه, ډاکټر، پښتو ادب کښې د مېرمنو برخه ، ندیم یونس پرنټرز لاهور,۱۹۹۳ء ، مخ, ۳۷۴

5 شاهین , سلمٰی , پروفېسر, روهي سندرې جلد اول , جدون پرنټنګ پریس ، د وېم ځل چاپ په کال ۲۰۱ءمخ ۴۰

6 طائر,نواز, پروفېسر ، پېش لفظ ''روهي سندرې ''جلد دوېم ملت پرنټرز لاهور. ۱۹۹۴ء ، ,مخ، ۱۰

7 لیاقت ، فرخنده ,، پروفېسر، پروفېسر ډاکټر سلمٰی شاهین ( تمغه امتیاز)ژوند او ادبي خدمات پښتو جلد ۴۷ , نمبر ,۲۵۶, جولائي - دسمبر ۲۰۱۸ء ،مخ، ,۳

8 همدغه اثر ،مخ,۷

9 جهان ,شاه , ډاکټر ، پښتو ادب کښې د مېرمنو برخه، مخ، ۳۷۵ ،

10 شاهین, سلمٰی, پروفېسر, مقاله , پښتو اکېډمي کښې په اولسي ادب شوي کار، ,پشاور یونیورسټي جرنل, جلد نمبر, ۱۱شماره ,۱ ۱۹۹۸ء مخ ،۱۱۲

11 شاه ، راج ولي، خټک , پروفېسر ، سریزه مشموله راوېل ، ډاکټر سلمٰی شاهین ، جدون پرنټنګ پریس پېښور، ۲۰۰٤ء ,مخ,۱__۲

12 طائر، نواز, پېش لفظ ، روهي سندرې ، جلد دوېم ، ملت پرنټرز لاهور،. ۱۹۹۴ء ',مخ، ۱۰

13 طائر, نواز ، سریزه ,د پښتو ټپې معاشرتي او ثقافتي اثر , لیک د سلمٰی شاهین,، جدون پرنټنګ پریس پېښور، ۸۸ ___ ۱۹۸۹,مخ، ,۸

14 شاهین, سلمٰی ''روهي سندرې، پښتو اکېډیمي پېښور ، جدون پرنټیڼګ پریس لاهور ۱۹۸۳ء ، سجلد اول، مخ ۳

15 شاهین ، سلمٰی ، روهي سندرې جلد اول ، دوېم ځل ، مخ، ,۱۵

16 شاهین ، سلمٰی، روهي سندرې ، ,جلد دوېم، ملت پرنټرز لاهور. ۱۹۹۴ء , مخ ۳

17 ,همدغه اثر ,مخ ، ۲۵

18 همدغه اثر , ,مخ، ۳۸

19 همدغه اثر , مخ، ۳۱

20 شاهین ،,سلمٰی، دپښتو ټپې معاشرتي او ثقافتي اثر، جدون پرنټنګ پریس پېښور، ۸۸ ___ ۱۹۸۹ء ،مخ ۸

---

21 یوسفزے, اباسین ، خرمن ادب ،مشرق اخبار،۲۶مارچ تا یکم اپریل ۲۰۰۰ء

22 شاهین,، سلمٰی، روهي سندرې، جلد دویم ،مخ، ۵,

23 همدغه اثر ,,مخ ، ۵

24 همدغه اثر , مخ ، ۸۴

25 لیاقت ، فرخنده,، **د ډاکټر سلمٰی شاهین ژوند او ادبي خدمات، ,** پښتو جلد ۴۷ نمبر ٦٥٦جولائي - دسمبر ۲۰۱۸ء مخ,۴_۵

26 هم دغه اثر

27 شاهین, سلمٰی,ادرایه ’’پښتو‘‘ مجله ، اکتوبر ________ دسمبر ۲۰۰٦ء ، ، پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي